
# دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غواېي لاندی

لاس و پښـې چـاودي مـخ سـپېره شـونډي وچـې يـو کـوچنی پېټـی غـنم يـې پـر شـا را اړولـي وو او پـه سـتمي د کـور پـر لـوري را روان دی، بشـپړي نهـه مياشـتي يـې خـواري کښـلې ده او منتونـه يـې وړي دي، تـر څـو چـې پـه اخـري دوبـي (۹۰) منـه غـنم لـه بزګـرۍ نـه ورغلـل پـه دې کـې يـې (۹) منـه غـنم ملا صـاحب تـه زکـات ورکـړل، (۳۰) منـه يـې پـش تـه ورکـړل او څلـور منـه هـم (رقبـه) ترېنـه يـووړل، (۲۰) منـه يـې د هغـو دوو زرو افغـانيو پـه سـود کـې ورکـړل کـومې چـې د ده د پـلار د مـرګ د خيـرات او اسـقاط لپـاره د يـوه سـودخور نـه پـه شـپېته منـه ګټـه راوړي وې، پـه کـور کـې د ده مايېنـه او مـور او څلـور ماشـومان د ده لاره څـاري او ماشـومان يـې لـه کـوره راوتلـي او د هغـې لاري خواتـه پـه ډېـره اسـره ګـوري، پـر کومـه لاره چـې د دوی پـلار اوس کورتـه راځـي او د رشـې غـنم راوړي، د ده مـور او مـاينې د سـږ کـال د محصـولاتو پـه شـاوخوا کـې خـورا ښـې خـوږې کيسـې کـولې او هيلـه يـې وه چـې ګـونـدي سـږ بـه يـو څـو ورځـې پـه نـس مـاړه سي، پـه دې وخـت کـې ماشـومان يـو پـه بـل پسـې د کـور لـوري تـه راځغلي او ناري وهي چې بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزګـر هـم پېټـی پـه شا پـه کـور راننـوت او پېټـی يـې د خـوني لـه مخـه کښېښـود، مـور او مـاينې پـه الوتـو بنو ترېنـه د رشـې احـوال پوښـته چـې پـه دې وخـت کـې يـو سـړی تـرازو او کـاني پـه لاس پـه انګـړ راکښـېووت او پـه کلک ږغ يې ورتـه وويـل چـې: "تا خـو ويـل پـر راشـه بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنم د پور په عوض کي درکړم او تا ټوله غنم خپل کورته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ويل يې چي دا څلور پنځه مياشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لري ژر شه غنم راوتله، مور يې چيغي کړې چي دا څو دانې چي ته يوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وويل خاوري!".

سم د لاسه يې اندی راواړاوه او ټوله غنم يې ځيني وتلل او په پای کي يې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وويل چي: "دونه منه خو لا نور هم درباندي پاته سول هغه به څرنګه سي".
خوار بزګر په داسي حال کي چي له څواشينی نه يې پر ستوني درد وو، تش جيوال و ځانده او يوې خوا ته يې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي يې وويل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به يوه لپه نيني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او يو څه شفتل يې په پلو کي راوړه او له مالګي سره يې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره يې په ژړا پيل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډيانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له يوې خوا د ده ګاونډيانو هم دغه راز د ناداری تکليف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي يو دوې کاسې اوړه ترېنه پور کړي وو هغه يې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار يې بايللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر يې وکړ، له ځانه سره يې فيصله وکړه چي د يوې غويي چي د ده ورو ستنی او يواځنی دا رايي وه د هغه په مرسته يې د خلګو بزګري کوله د عيال د قوت او لايموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي يې د مور او مايني رضايت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library


واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چي د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لڅي پښې پړانګي کالي بلي منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کي شپږ مياشتي د خاورو او ختو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځي شپږ افغانۍ ورکولې، چي درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پاى کي د ده ټوله ګټه (۴۲۸) افغانۍ سوه، چي په (۳۰۰) افغانۍ يې ځانته پنې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دى شپږ مياشتي په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او بنه زړه د کور لوري ته راروان سو چي د کور په وره راننووت او لوز او مايني يې چيغي کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چي مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په مني لا مړه سوي دي، يو ګړى وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چي: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مي ورکړي دي چي قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کېږي او هم مي ستا پر ځاى په دې شپږو مياشتو کي (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړې دى، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دي پر مور راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چي (۲۴۲) افغانۍ کېږي راکړه" ځکه چي ده دا ټول رقم پر يو ځاى نه شو تاديه کولاى نو محکمې ته يې کښ کړ او بندي شو چي بيا د دې خوار او د ده د کالهٔ احوال چا وا نه خيست[۱۰]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

[۱۰] اوسني ليکوال لومړى ټوک

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**